Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

# په تدريس کې د ظاهري نښو  نبوي ميتودولوژي

پوهنيار عثمان غني يوسفي
اسلامي تعليماتو  څانګه، شرعياتو پوهنځی، کندهار پوهنتون
مسؤل ايميل ادرس : usman.afghan11@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۴/۰۲/۱۳ منل سوې: ۱۴۰۴/۰۳/۲۰ خپره سوې: ۱۴۰۴/٦/۳۰ دثبت ګڼه : LSSAJ-2-1-03 مخونه (۳۷-۴۸)

## لنډيز

په تدريس کې د ظاهري نښو نبوي ميتودولوژۍ په وروستيو کې د ښوونې او روزنې په ډګر کې د تدريس د ميتودونو په کشف کې روښانه پرمختګ ليدل سوی دئ. لکه څنګه چې په دې ورستيو کې د لوېديځو پوهانو په دې برخه کې لوموړيتوب درلود، نو دوی د تدريس لپاره نوښتګر ميتودونه او لارې چارې وضعه کړې. له همدې امله، ما غوښتل چې دا ميتودونه د نبوي احاديثو له مخې ولټوم ترڅو څرګنده کړم چې نبوي احاديث له دې ميتودونو ډک دي. رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د تدريس د ميتودنو لپاره مهمې لارښوونې فرمايلې دي. د څېړنې هدف دا دئ چې د احاديثو د معتبرو کتابونو څخه د تدريس د ميتودونو اړوند احاديث راټولول. دغه څېړنه په کتابتوني ميتود سره تر سره سوې ده، چې د څېړنې مواد د توصيفي او تحليلي ميتودونو څخه په استفادې څېړل سوي دي. په دغه څېړنه کې په تدريس کې د نبوي ميتودونو څخه د ظاهري نښو نبوي ميتودونه څېړل سوې دي. د څېړنې په پايله کې دا جوته سوه چې نن سبا چې په علمي او آکاډيمکو ساحو کې کوم ميتودونه د تدريس لپاره کارول کيږي دا ميتودونه نوي اختراع سوي نه دي بلکې په اصل کې دا په نبوي احاديثو کې موجود دي. نبي کريم ﷺ په خپل تدريس کې د ظاهري نښو، انځوروно، ګرافيکونو او اشکالو ميتودونو څخه استفاده کړېده. د نبوي احاديثو د تدريس اسلوبونه د عصري ښوونې له ميتودونو سره سم دي او حتی د هغوی لپاره بنستيز الهام ګڼل کيږي. نبوي احاديث موږ ته ښيي چې د تعليم طريقه بايد عملي  واضحه او د زده کوونکو د توان په اساس وي. دې ته په کتو، نبوي احاديث د تدريس لپاره د نوښتونو او ميتودونو يوه ستره سرچينه ده.

**کليدي کلمې**: اغېز_ تدريس – تګلاره – حديث   – ميتود.

## سريزه

إِنْ الْحَمْدُ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

قال‌الله تعالی: ﴿هُوَ ٱلَّذِي بَعَثَ فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ 2 ﴾ [الجمعة: 2] وقال رسول‌الله –صلی‌الله علیه وسلم– : إنَّ‌الله لَمْ يَبْعثْني معنّتا ولَا مُتَعنّتا، ولَكن بَعثني معلّما ميسرا (مسلم 2/ 1105).

الله پاک خپل نبي ﷺ د ښوونکی، لارښود او رڼا خپرونکی په توګه رالیږلی دئ. نبي ﷺ د هغه چا لپاره غوره نمونه ده چې الله ته هیله مند وي او د قیامت په ورځ ایمان ولري. نبي ﷺ موږ په داسي سپینه لارښوونه پرېښودلو چې شپه ئې د ورځي په څېر روښانه ده او زموږ لپاره ئې د ژوند په هر اړخ کې یو بشپړ منهج وټاکه. نو په مسلمان لازم دئ چې د خپل نبي ﷺ منهج په هر هغه کار کې وپېژني چې دی پرې اقدام کوي. د بېلګې په توګه، ښوونکي ته په کار ده چې د نبي ﷺ د ښووني منهج و پېژني او هغه عملي کړي. همدارنګه په نورو ټولو برخو کې هم د ده پیروي ضروري ده. ښوونه او روزنه د ټولو لوړو مقامونو او مهمو دندو څخه ده او هغه څوک چې ځان د خلکو ښوونکي ټاکي، باید د نبي ﷺ د ښووني او روزني منهج او طریقې وپېژني او بیا هغه طریقې په عملي توګه تطبیق کړي. د نبوي میتودولوژي پیروي په دې برخه کې ځانګړی ځای لري، ځکه چې حضرت محمد -ﷺ د الله تعالی له لوري نه یوازي د یو پیغمبر په توګه بلکه د ښوونکي او لارښود په توګه هم مبعوث سوی و. هغه د خپل تعلیم او تدریس په جریان کې یو ځانګړی میتودولوژي کاروله چې د زده کوونکو د عقیدې، اخلاقو او عمل په روزنه کې خورا اغیزمنه وه.

## د څېړني ستونزه

نن سبا په نړۍ کې او بیا په خاص ډول په علمي او آکاډمي ساحو کې د تدریس د ډول ډول میتودونو یادونه کیږي چې باید تدریس په دغو میتودونو تر سره سي، پر دې سر بیره نوي ځوانان، عام خلګ او په خاص ډول علمي ا و آکاډمیک قشر په دې فکرکې دئ چې دا میتودونه د غرب له خوا یوه نوي اختراع ده، حال دا چې که موږ د دین و اصل او د نبي ﷺ تدریسي منهج او تګلاري ته رجوع وکړو نو دا به راته جوته سي چې دا میتودونه نوي اختراع سوي نه دي، بلکې ریښه او اساس ئې په نبوي احادیثو کې موجود دي، چې نبي ﷺ خپلو صحابه کراموته تدریس کوی په داسي حال کې چې هغه د مختلفو میتودونو څخه کار اخستی، نو په دې څېړنه کې هڅه کیږي چې د نوي نسل ځوانانو او په خاص ډول علمي او آکاډمیک قشر ته دا ورسیږي چې اسلام کې هر څه موجود دئ او موږ په هڅه کې یو چې دا ثابته کو چې نن سبا کوم میتودونو یادونه کیږي او په اصل کې هغه یو نبوي اساس لري نو غواړو چې دا اساس په دې څېړنه کې وڅېړو. په دې څېړنه کې به د

نبوي میتودولوژي په روښانه کولو تمرکز وسي، چي څنګه رسول ﷺ - د قرآني تعلیماتو په رڼا کي اسلامي ارزښتونه او اخلاق زده کوونکو ته رسول. دغه میتودولوژي د تشویق، مثال ورکولو، عملي تمرین، پوښتني او ځواب ورکولو او همدارنګه د شفقت او زغم له لارې یو شامل او اغیزمن تدریس سیستم جوړ کړ. په څېړنه کي به د نبوي میتودولوژي په بېلابېلو اړخونو بحث وکړل سي او دا به وښيي چي د نن ورځي لپاره څنګه د ښووني په پروسه کي دا اصول پلي کېدی سي ترڅو یوشی په معیاري او مؤثره توګه زده کوونکو ته وړاندي سي .

د نبي ﷺ په ښوونیزه تګلاره کي ګڼ شمېر داسي وسایل او طریقي سته چي د تدریس لپاره اغېزمني ګڼل کیږي. د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ښووني طریقه د زمان او مکان په لحاظ یو بي‌ساری او بشپړ نمونه ده د دغو تګلارو څخه یوه ئې د ظاهري نښو تګلاره ده دا تګلاره یو له اغېزناکو او ارزښتناکو ښوونیزو میتودونو څخه ده، چي د زده کړو د ښه یادولو، پوهېدلو او د زده کوونکو په ذهني پر مختګ کي ئې مهم رول لوبولی دئ. نبي کریم-صلی الله علیه وسلم- به د ښووني او روزني په بهیر کي د یو شي د وضاحت لپاره د لاس ګوتي په ماهرانه توګه کاراولې ترڅو د خلګو پام جلب کړي، مفاهیم ور ورسوي او هغوی پرې پوه کړي. او بله ئې له انځورونو، ګرافیکونو او اشکالو څخه د استفادي لاره ده چي دا تګلاره هم په خپل ځان کي یوه بیساره اغېز لرونکي ده؛ نو څېړنه به د نبوي میتودولوژي د دغو دو تګلارو له اړخ بحث وکړي او دا به وښيي چي د نن ورځي لپاره څنګه د ښووني په پروسه کي دا اصول پلي کېدی سي ترڅو تدریس په مؤثره توګه زده کوونکو ته وړاندي سي.

## د څېړني ارزښت

دلته ځیني هغه ګټي او مترقبه لاسته راوړني ذکر کوم، چي زموږ دغه څېړنه به ئې له ځانه سره د احادیثو د تخصصي مجال او د ژوند عملي ډګر لپاره راوړي:

1. په تدریس کي نبوي مېتودولوژي ته د علمي قشر پاملرنه زیاتېدل.
2. د تدریس د مختلفو مېتودونو اړوند احادیثو په جمع کولو سره د اسلامي کتابتون شتمني ځرګندېدل .
3. د اسلامي ثقافت په تدریس کي د نبوي میتودونو د کارولو مثبت او اغېزمن ثابتېدل.

## د څېړني موخي

څرنګه چې هره علمي څېړنه ځان ته موخې او اهداف لري، چې د هغې لیکنې په فهم او اغېزمنتیا کې ډېر رول لري، له همدې خاطره ما هم د دې څېړنې موخې په ورځنۍ ژوند او علمي تخصصي ساحه کې په لاندې ډول ترتیب کړې دي :

1. د تدریس د میتودونو په هکله مختلف احادیث راجمع کول او په تخصصي ډول د هغو شرح او تحلیل.
2. د عامو ښوونکو په ځانګړي ډول د علمي او آکاډمیک ښوونکو لپاره د هغو نبوي میتودونو په نښه کول، چې په اوسني تدریس کې د بریالیتوب او پرمختیا سبب کیږي.
3. په تدریس کې  هغه نبوي میتودونه روښانه کول،  چې په واسطه ئې لومړۍ اسلامي ټولنه د کامیابۍ او بریا تر ورستی پوړ پورې رسولې وه.
4. د نبوي میتودولوژي توجه د ټولنې د خلګو او په ځانګړي ډول د علمي او آکاډمیکو ساحو پاملرنه او توجه را اړول.

**اصلي پوښتنه**

1. د نبوي احادیثو په رڼا کې، د تدریس د مېتودونو لپاره کوم اصول او لارښووني وړاندې سوي دي؟

**فرعي پوښتني**

1. آیا اوسني مېتودولوژي کو اساس او ثابت اصل لري؟
2. د نبوي احادیثو مطابق، د تدریس د ښه کولو لپاره د کومو طریقو بیان سوی دئ؟
3. آیا د تدریس د مېتود لپاره نبوي ارشادات رسول الله صلی الله علیه وسلم وړاندې کړې دي؟

## مواد او کړنلاره

دا څېړنه په وصفي او تحلیلي مېتودونو سره تر سره سوې ده. په دې څېړنه کې د تدریس میتودونه د نبوي احادیثو د کتابونوڅخه اخیستنه سوي ده. دا یوه موضوعي څېړنه ده، نو د څېړني په ترڅ کې عناوین له حدیثي مادې څخه ټاکل سوي، وروسته بیا د همدې موضوع د وضاحت او پراختیا په موخه نبوي حدیث راوړل کیږي. بل دا چې د څېړني ټول تمرکز د احادیثو پر معنی، شرح ، استنباطاتو، هدایاتو. د تدریس د میتودونو په ارتباط ورکولو او تطبیق باندي راڅرخي. د نبوي

احادیثو د ژباړې، له نصوصو د صحیح فهم، استنباط او هدایاتو اخیستلو لپاره مې د احادیثو د شرح له معتبرو کتابونو څخه اخیستنه کړې ده. او د احادیثو پر شرح سربېره نور هغه احادیث چې د دې موضوع پر بېلابېلو اړخونو بحث کوي، هم راوړل کیږي، او په ځینو مواردو کې د ښه تدریس لپاره ځیني ارشادات حکمتونه او فوائد هم ذکر کیږي.

**ظاهري نښو د کاروني تګلاره**

د تدریس د تګلارو څخه یوه هم په ظاهري نښو اشاره کول دئ، دا یوه مؤثره او اغېزناکه تګلاره ده؛ «ځکه چې د تدریس په وخت کې د څو وسیلو کارول. که یو ښوونکی د خبرو او وینا ترڅنګ اشاري هم وکاروي، نو دا به د زده کوونکي په ذهن کې د معلوماتو د پاتې کیدو لپاره ډېر اغېزناک وي، په پرتله د یوازې خبرې کولو. له همدې امله، ښوونکي ته پکار ده چې د وضاحت او بیان لپاره بېلابېلې لارې او وسایل وکاروي، ترڅو زده کړه اغېزناکه او ګټوره سي. همدارنګه رسول الله ﷺ به د پیغام په رسولو کې حرکتونه، اشاره ګاني او د لاسونو تمثیل کارول، چې دا به د خبرو د مؤثریت لپاره ډېر اغېزناک وو. د هغه ﷺ حرکتونه دومره څرګند او معنی لرونکي وو چې د خلکو پام به ئې ځان ته اړاوه، غافل کسان به ئې بیدارول او د پیغام په یادولو او ساتلو کې به مرسته کوله پیغمبر - ﷺ به د بدني حرکاتو او نښو په کارولو سره ښوونه ترسره کوله ترڅو مفهوم واضح سي. په ګڼو احادیثو کې راغلي چې رسول الله ﷺ به د خپلو صحابه کرامو -رضي الله عنهم- د تعلیم په وخت کې د خپلو ګوتو څخه کار اخیسته او د ښووني لپاره ئې موخیزي اشارې کولې. کله به ئې یوه ګوته، کله دوې، درې، څلور او ځیني وخت ټولې پنځه ګوتي کارولې. د دې اشارو موخه به د ښووني وضاحت زیاتول، د خلکو پام راګرځول او یوه موضوع په ذهن کې ټینګه کول وه»(اللویحیق, ۲۰۱۶, م ص: ۱۵). (عیسی, ۲۰۱۸ م, پاڼ ۳۹) (فاطمة, زکریا صبحي , ۲۰۰۹ م, پاڼ ۱۶).

**د اشاري کارونه**

له تدریس د میتودونو څخه یو هم د اشاري کارونه ده، دا میتود په نبوي احادیثو کې یو ثابت میتود دئ، رسول الله ﷺ به په خپلو ویناوو او ښوونو کې د مفهوم روښانه کولو لپاره د دې میتود څخه استفاده کول؛ ځکه چې دا د بیان یوه اغېزناکه طریقه ده چې په ځانګړې توګه د پیغام د ښه رسولو او په حافظه کې د ساتلو لپاره مرسته کوي. په دې اړه رسول الله - صلی الله علیه وسلم – فرمایې:

"أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ كَهَاتَيْنِ" (البخاري، ۱۹۹۳ م) ح: 4222).

ژباړه: زه او د یتیم پالونکی به په جنت کې لکه دغه دوه ګوتي یو ځای یو.

په دې حدیث کي رسول الله ﷺ د ګوتو په واسطه د یتیم پالونکي مقام ښکاره کړ، ترڅو دا مفهوم په ښه توګه خلکو ته ورسېږي. د شهادت او منځنۍ ګوتي سره نږدي والي د یتیم پالونکي او رسول الله ﷺ ترمنځ نږدي اړیکه څرګندوي .

ابن بطال -رحمه الله- ویلي دي: «د هر هغه چا لپاره چي دا حدیث واوري واجب ده چي پرې عمل وکړي، ترڅو په جنت کي د رسول الله ﷺ ملګری سي او په آخرت کي د دې څخه غوره مقام نسته (بطال, ۲۰۰۳م, پاڼ ۲۱۷ج۹).

ابن حجر ویلي دي: "او هغه (نبي ﷺ) د خپلي شهادت ګوتي او منځنۍ ګوتي ترمنځ واټن را ویستی." دا اشاره ده دې ته چي د نبي ﷺ او د یتیم پالونکي ترمنځ درجي کي هغه توپیر دئ لکه څومره چي د شهادت ګوتي او منځنۍ ګوتې ترمنځ فاصله (العسقلاني, ۱۳۹۰ هـ پاڼ ۴۳۶ ج:۱۰)

اشاره د وینا پر وړاندي یوه عیني او واضحه نښه ده چي د اورېدونکو لپاره د پېغام د درک کچه ډېروي او د یاد ساتلو چانس زیاتوي. دا میتود په ځانګړي توګه د ښووني او روزني په ډګر کي د تطبیق وړ دئ. شیخ عیسی ویلي دي: په ښوونه کي د اشاري کارونه خورا اغېزناکه ده او ګڼ شمېر ګټي لري: د وضاحت بیان، اختصار، د مضمون تایید، د اوریدونکو پام راجلبول او داسي نور... (عیسی, ۲۰۱۸ م; عیسی, ۲۰۱۸ م)ص ۴۰).

د اشاري کارول په ښوونه او زده کړه کي یو مهم او مؤثر اسلوب دئ چي د وضاحت، اختصار او جذب لپاره ډېر ګټور دئ. د رسول الله ﷺ د ښووني طریقه موږ ته د دې طریقي عملي اهمیت او د زده کړي په ډګر کي د تطبیق وړتیا ښیي. همدارنګه رسول الله ﷺ په یو بل حدیث کي په ژوره او اغېزناکه توګه د دنیا او آخرت ترمنځ د توپیر وضاحت وکی، هغه د مجرد مفهوم د پوهولو لپاره حسي اشاره وکاروله چي او رېدونکو لپاره لا محسوسه او اغېزمنه وي. رسول الله ﷺ وفرمایل: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَاللهِ مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ هَذِهِ ( وَأَشَارَ يَحْيَى بِالسَّبَّابَةِ ) فِي الْيَمِّ، فَلْيَنْظُرْ بِمَ تَرْجِعُ (مسلم, ۱۹۵۵م)شمیره: ۲۸۵۸).

ژباړه: رسول الله ﷺ وفرمایل: "قسم په الله! دنیا د آخرت په وړاندي یوازي د دې مثال لري چي تاسو خپل دا ګوته (یحیی په شهادت ګوته اشاره وکړه) په سمندر کي ډوب کړئ، بیا وګورئ چي څونه اوبه له ځان سره را اخلي."

الشیخ اللویحق وایي: په دې حدیث کي رسول الله ﷺ د اشاري یوه حسي طریقه کارولي ده چي په هغي کي یو مجرد مفهوم د یو ملموس شي سره تړل سوی، چي په دې حالت کي د ګوتي یادونه سوې. بېشکه، دا طریقه د حاضرینو په زړونو کي ډېر ژور اغېز پرېباسي، په پرتله د دې چي یوازي ورته ووایي: دنیا د آخرت په وړاندي هېڅ ارزښت نه لري (اللویحق, ۲۰۱٦)ص۱۵).

رسول الله ﷺ د دنیا ارزښت د یوې مجردي خبري پر ځای په یوه عملي بېلګه کې تشریح کړ. هغه د شهادت ګوته او د اوبو سمندر وکارول، څو مفهوم ډېر روښانه کړي. که یوازي دا خبره سوې وای چي "دنیا د آخرت په وړاندي هېڅ ارزښت نه لري"، نو شاید پر اورېدونکو ئې دغونده ږور تاثیر نه وای کړی. مګر د حسي اشاري په مرسته دي مفکوري د دوی په ذهن کي ځای وموند. د رسول الله ﷺ د تدریس دا میتود موږ ته ښيي چي د اشاري حسي کارونه څنګه کولی سي چي مجرد مفاهیم په اسانۍ سره اورېدونکو ته ورسوي. دا د نبوي حکمت یوه ښکاره بېلګه ده چي نن ورځ هم د تدریس او ښوونې په ډګر کي کارېدلی سي، کومه نوي اختراع نه ده؛ بلکي یو ثابت اصل لري.

حرکت او اشاره د زده کړي یوه اغېزمنه تګلاره ده؛ ځکه چي اورېدونکي یوازي خبري نه اوري، بلکي د وینا سره تړلي اشاره هم ویني چي دا د حافظي او زده کړي د پیاوړتیا لپاره مرسته کوي. په دي اړه د أنس -رضی الله عنه- یو روایت دئ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ وَضَمَّ أَصَابِعَهُ (مسلم، ۱۹۵۵م)ح: ۲٦۳۱).

ژباړه: له أنس بن مالک -رضی الله عنه- څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر څوک چي د دوو نجونو تر بالغېدو پوري پالنه وکړي، د قیامت په ورځ به زه او هغه سره یوځای اوسو، بیا ئې ګوتي سره نږدي کړي.

د رسول الله ﷺ دا حرکت (د ګوتو سره یو ځای کول) د مطلب په روښانه کولو کي ډېر اغېزناک دئ؛ ځکه چي دا په حاضرینو کي د موضوع درک ژوروي.او د دوی و اذهانو ته مفهوم ډېر ژر انتقالوي، په پرتله د یوازي دي خبري چي: "څوک چي د دوو لوڼو پالنه وکړي تر دي چي بالغي سي، د قیامت په ورځ به زما سره نږدي وي." (اللویحق، ۲۰۱٦) ص١٦). همدارنګه د رسول الله ﷺ د لاس ګوتو نږدي کول د دي خبري د وضاحت لپاره و، چي د لوڼو پالونکی به په قیامت کي له هغه سره ډېر نږدي وي. یوازي خبري کول شاید دومره اغېزناک نه وای، مګر د ګوتو حرکت د دي پیغام اهمیت څرګند کړ.

**د لاس د حرکت او د ګوتو تاو کیدلو کارونه**

د اشاري د تګلاري څخه بل ئې هم د ګوتو نښلول دئ، دا میتود په واسطه وینا په ذهن کي ښه رسوخ پیداکوي؛ ځکه چي خلګ یوازي خبري نه یادوي، بلکي د حرکتونو له لاري وړاندي سوي مفاهیم ئې په حافظه کي ښه پاته کیږي. رسول الله -صلی الله علیه وسلم- به د پیغام او معلومات په رسولو کي خپلي ګوتي یو له بله تاو کړي. له ابو موسی الاشعري -رضی الله عنه- څخه روایت دئ، چي رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: "إِنَّ الْمُؤْمِنَ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ، يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا. وَشَبَّكَ أَصَابِعَهُ" (بخاري ح: 6026).

ژباړه: مومن د مومن لپاره لکه ودانۍ، چې یو بل پیاوړی کوي او خپلې ګوتې ئې سره یوځای کړې . په حدیث کې موخه یوازې تمثیل او د مفهوم په حسي بڼه څرګندول دئ، ترڅو دا معنی په زړه کې ښه ځای ونیسي. دا ډول طریقه د ښوونې لپاره یوه سمه او اغېزناکه لار ده چې د خبرو اهمیت او وضاحت زیاتوي او اورېدونکي ته ژور تاثیر رسوي. (القاضي, ۱٤۳۱ ه بالشاملة)(ص90).

ابن رجب -رحمه الله- ویلي دي: د نبي کریم ﷺ دا د ګوتو یوځای کول په دې حدیث کې د یوې ګټې او مقصد لپاره وو او هېڅکله بېهدفه نه وو. کله چې ئې مؤمنان د یو بل د ملاتړ په اړه د یوې ودانۍ سره تشبیه کړل، نو دا ئې په وینا څرګنده کړه. بیا ئې دغه مفهوم ته د عمل په واسطه لا زیات وضاحت ورکړ او خپلې ګوتې ئې یو بل سره ونښلولې دا د دې لپاره وو چې د وینا مطلب په ذهنونو کې لا ښه تثبیت سي او مفهوم لا څرګند او روښانه سي (ابن رجب, ۱۹۹٦ م، (۳/ ٤۱۹.(

د دې تشریح یوه بله ګټه دا ده: که څوک غواړي چې خپلې خبرې اغېزناکې کړي، نو کولی سي د خپل هدف څرګندولو لپاره له بدني حرکاتو هم کار واخلي، تر څو خبرې په اورېدونکو باندې ډېر اغېز وکړي (الشنقیطي, ۱۹۹۵ م, پاڼ ۳۳۸ج۷).

دا حدیث د مسلمانانو ترمنځ د یووالي او ملاتړ ارزښت بیانوي. لکه څنګه چې یوه ودانۍ د یوې خښتې یا برخې له بلې څخه ملاتړ اخلي، همدارنګه مؤمنان هم یو له بل سره مرسته او ملاتړ کوي. رسول الله ﷺ غوښتل چې دا مفهوم یوازې په وینا سره نه، بلکې په یوې عملي بېلګې سره هم ښکاره کړي، تر څو د دې ارزښت اهمیت ښه په زړونو کې ځای سي. نو په علمي آکاډیمکو ساحو کې ښوونکوته په کار ده چې د خپو وینا وو د اغېز زیاتولو لپاره عملي بېلګې یا حرکات وکاروي، تر څو معلومات لا روښانه سي. دا کم نوی میتود نه دئ بلکې اصل ئې په نبوي احادیثو کې موجود دئ.

## په ګوتو کړی جوړول

کله کله د تدریس په جریان کې د معلوماتو د وضاحت او د محصل په ذهن کې د ښه اغېز لپاره د ظاهري نخښو کارولو ته اړتیا وي، د دغې اړتیا د پوره کولو لپاره له دې میتود څخه باید استفاده وسيي؛ ځکه چې دا میتود یو داسې تګلاره ده چې د خبرې کوونکي او ورېدونکي دواړو په زړونو ډېر اغېز کوي په دې اړه د زینب بنت جحش یو روایت دئ: "أَنَّ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَزِعًا مُحْمَرًّا وَجْهُهُ يَقُولُ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ، فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ. وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الْإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا..."(مسلم 7336).

ژباړه: له زینب بنت جحش څخه روایت دئ، چې ویې ویل: یو ورځ رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په ویره کې را وتلی و، د هغه مخ سور و او ویې ویل: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ د عربو لپاره هلاکت دئ

د هغه شر له امله چې رانژدې سوي دئ. نن یاجوج او ماجوج له دیوال څخه دومره اندازه سوری خلاص سوی دئ او بیا ئې خپله بتهٔ ګوته او ورپسې ګوته سره کړی کړه. دلته رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د ګوتو کړی په جوړولو د هغوی د دیوال د خلاصیدو اندازه روښانه کړه.
په دې حدیث کې رسول الله ﷺ د یأجوج او مأجوج د فتنې په اړه خبرداری ورکړی دئ. دا فتنه د قیامت د نخښو څخه ده او په تدریجي ډول یې د راښکاره کیدو نخښې څرګندیږي. رسول الله ﷺ د ګوتو په نخښه کولو سره د دې دیوال د خلاصېدو کوچنی مقدار بیان کړی، چې په دې سره د شر د نږدېوالي شدت ښیي. نو د تدریس پر محال د ګوتو په نخښه کولو سره د مهمي خبرې واضح کول باید روښانه سي؛ لکه چې رسول الله ﷺ د مسئلې د شدت او حقیقت وضاحت کړی د دې میتود له لارې کړی دی.

**د لاسونو کارونه**

په تدریس کې د ظاهري نخښو د کارولو څخه بل یې هم د لاسونو استعمال دئ، په تدریس او زده کړه کې د لاسونو استعمال یوه مهمه تخنیکي او عملي طریقه ده چې د زده کړې اغېزمنتیا ډېروي. دا طریقه زده‌کوونکو ته مفاهیم روښانه کوي، د هغوی پاملرنه جذبوي او د زده‌کړې عمل عملي کوي. دا میتود په نبوي احادیثو کې یو ثابت میتود دئ، رسول الله ﷺ به په خپلو ویناوو او ښوونو کې د مفهوم روښانه کولو لپاره د دې میتود څخه استفاده کول؛ ځکه چې دا د بیان یوه اغېزناکه طریقه ده چې په ځانګړي توګه د پیغام د ښه رسولو او په حافظه کې د ساتلو لپاره مرسته کوي .
په ځینو احادیثو کې راغلي چې نبي کریم ﷺ به خپل مبارک لاسونه د ځینو تعلیمي او مجردو مفاهیمو د تشریح لپاره کارول. کله به یې د سر په وړاندي د اوبو تویولو لپاره اشاره کوله، کله به یې د صادق او کاذب فجر ترمنځ توپیر په نخښه کولو لپاره کارول. ځیني وخت به ئې د یوې ځانګړي خوا د ښوولو لپاره اشاره کوله او کله به ئې د میاشتي د ورځو شمېر په ګوته کولو لپاره لاسونه کارول. دا ټولي طریقي د موضوع په ښه وضاحت کې مرسته کوي او د تعلیم تاثیر زیاتوي (اللویحق, ۲۰۱٦ ص۱٦.
په دې اړه د رسول الله - صلی الله علیه وسلم –ګڼ شمېر احادیث موجود دئ، ځیني ئې دلته د نموني په شکل د نظر لاندي نیسو.
امام بخاري -رحمه الله- په کتاب الغسل کې د جبیر بن مطعم -رضی الله عنه- یو روایت رانقل کړی دئ، هغه وفرمایل: چې رسول الله ﷺ وویل: أَمَّا أَنَا، فَأُفِيضُ عَلَى رَأْسِي ثَلَاثًا. وَأَشَارَ بِيَدَيْهِ كِلْتَيْهِمَا (البخاري, ۱۹۹۳ م, پاڼ شمېره:۲۵۴).
ژباړه: زه پر خپل سر باندې درې ځله اوبه اچوم او په دې سره ئې خپل دواړه لاسونه په اشاره سره وښودل. یعني اشاره ئې وکړه په دواړو لاسو سره .

دا حرکت د رسول الله ﷺ د تعلیمي طریقې یوه بله بېلګه ده، چې د اوبو د تویولو مفهوم په ښه توګه د لاسونو په واسطه څرګندوي. د دې حرکت هدف د مفهوم دقیق رسولو لپاره و، ترڅو حاضرین یې په ښه توګه درک کړي.

» د رسول الله ﷺ تعلیم یوه بله مهمه ځانګړنه د نرموالي او مهربانۍ په ټنګولو کې وه، بلکه هغه د خپلو کړنو او د ژوند په طریقو کې لارښوونه کوله، ترڅو خلک د هغه پیروي وکړي او د هغه د هدایت په رڼا کې سمې لارې ته ورسیږي. دا د نبي ﷺ د ښووني او لارښووني غوره او د زړه نرمه طریقه وه، چې د خلکو زړونه او ذهنونه ئې فتح کړل. د هغه ﷺ د ښووني طریقه د حقیقي ښوونکي او لارښوده نموني په توګه پاتې ده» (الولوي, ١٤٣٦هـ)ص ٦٣/٨).

د لاسونو استعمال په تدریس کې د عملي ښودنې یوه اغېزمنه لاره ده چې د زده‌کوونکو ذهن ته ژور تاثیر ورکوي. دا تخنیک باید په مناسب او متوازن ډول وکارول سي، تر څو زده‌کوونکي درس ته متوجه پاتې سي او درس لا په زړه پوري او اغېزناک سي .

## نتیجه او مناقشه

په اوسني عصر کې د ښوونکي ډول ډول میتودونو یادونه کیږي، چې دا میتودونه کوم نوی اختراع نه ده بلکې دا په نبوي احادیثو کې موجود دئ، د هغو لوستنو او مطالعاتو له مخې، چې په دې برخه کې ترسره سوې دي څرګندیږي، چې له هیواده د باندې د نوموړي موضوع په اړه ګټوري څېړني تر سره سوې دي، لکه: «المرشد النفیس الی اسلمة طرق التدریس» دکتور محمد صالح بن علي جان لیکنه، بل "الرسول المعلم" د الشیخ الدکتور عبدالرحمن بن معلا اللویحق لیکنه ده. دا لیکنې په عمومي ډول پراخې او عامې لیکنې دي د تدریس ډول ډول میتودونه ئې ذکر کړې دي. همدا رنګه اسلامي پوهانو او لیکوالانو د نبوي احادیثو څخه په استنباط د ټولنې لپاره په هره برخه کې څېړنې تر سره کړې دي، د بېلګې په توګه: «أسالیب ووسائل جودة التعلیم دراسة تأصیلیة من خلال السنة النبویة" د دکتور علاء العزیز متولي عیسی لیکنه ده، او بله "وسائل النبویة في التعلیم" لیکنه ده دا لیکنه په الشبکة الألوکة په سایټ کې یوه خپره سوې مقاله ده. له یوه پلوه د دې څېړنې د عنوان مطابق له ډېرو کتنو وروسته هم په دې ونه توانېدلم، چې په دې اړه په پښتو ژبه کې (په تدریس کې د ظاهري نښو، انځورونو، ګرافیکونو او اشکالو نبوي میتودولوژي) تر عنوان لاندې کوم کتاب، رساله او یا علمي تحقیق تر لاسه کړم .

نو ما دا بهتره وګڼل چې په دې اړه یوه علمي څېړنه کې د دغو میتودونو اصلیت ثابت کړم او هغه احادیث را جمعه کړم کوم چې د تدریس د میتودونو څخه بحث کوي، ترڅو ښوونکي د تدریس لپاره نبوي میتودونو سره اشنا سي او په خپلو روزنیزو پروګرامونو کې ترې استفاده وکړي ترڅو محصلین له زده کړې څخه پوره فهم ترلاسه کړي او په خپل علمي پرمختګ کې وده وکړي .

## پایله

زه د الله تعالی شکر اداکوم، چي ماته ئې دا څېړنه اسانه کړل؛ د دې څېړني په پای کې لاندي پایلو ته رسیدلی یم:

نن سبا چې په علمي او آکاډیمکو ساحو کي کوم مېتودونه د تدریس لپاره کارول کیږي دا مېتودونه نوي اختراع سوي نه دي بلکي په اصل کي دا په نبوي احادیثو کي موجود دي. پکار ده چي تدریس د یادو نبوي مېتودونو په رڼا کي ترسره سي؛ تر څو اغېزمن ثابت سي. نبي کریم ﷺ په خپل تدریس کي د ظاهري نښو د استعمال له میتودونو څخه استفاده کړیده.

### سپارښتني

د څېړني په پای کي لاندیني وړاندیزونه د درنو لوستونکو ته وړاندي کوم:

1. استادان باید د رسول الله ﷺ له تدریسي مېتودنو څخه استفاده وکړي؛ ځکه چي رسول الله ﷺ یو ښه استاد او ښوونکی و.
2. د پوهنتونونو د PDC آمریت له خوا د پوهنتون او په خاص ډول د شرعیاتو پوهنځی استادانو ته په تدریس کي د نبوي مېتودونو اړوند د مسلکي استادانو له خوا سمینارونه دایرولو ته ځانګړې پاملرنه وسي.
3. په تدریس کي د نبوي مېتودونو د پوهاوي په اړه پکار ده چي په دیني جامعاتو، ښوونځیو او مدارسو کي ښوونکو ته علمي سیمنارونه وړاندي سي.
4. ښوونکي باید د تدریس په نبوي مېتودونو باندي بلدتیا ترلاسه کړي، ترڅو تدریس مثبت او اغیزمن تمام سي.

لوړو زده کړو وزارت ته مو وړاندیز دی چي په تدریس کي نبوي میتودولوژي مضمون اضافه سي

## اخځلیکونه

القران الکریم

أبو الحسن علي بنخلف بن عبد الملك ابن بطال. (۲۰۰۳م). شرح صحیح البخاري لابن بطال. الریاض: مکتبة الرشد.

أبو الحسين مسلم بن الحجاج القشيري مسلم. (۱۹۵۵م). صحيح مسلم. القاهرة: مطبعة عيسى البابي الحلبي وشركاه.

أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني ابن ماجة. (2009م). سنن ابن ماجه. درا الرسالة العالمية.

أحمد بن علي بن حجر العسقلاني. (١٣٩٠ هـ). فتح الباري. مصر: المكتبة السلفية.

أحمد بن محمد بن منصور بن القاسم بن مختار القاضي. (١٤٣١ ه بالشاملة). المتواري علي تراجم أبواب البخاري. الكويت: مكتبة المعلا.

الدكتور العلاء العزيز متولى عيسى. (٢٠١٨ م). أساليب ووسائل جودة التعليم. كلية الدراسات الاسلامية والعربية للبنات بكفر الشيخ.

الدكتور عبدالرحمن بن معلا اللويحق. (٦ ٢, ٢٠١٦). الرسول المعلم. تم الاسترداد من الشبكة الألوكة: http://swww.alukah.net

رجب, زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بن. (١٩٩٦ م). فتح الباري شرح صحيح البخاري. المدينة النبوية.: مكتبة الغرباء الأثرية.

فاطمة, زكريا صبحي . (٢٠٠٩ م). أساليب الريان في التعليم و مدى تأثيرها بالسنة النبوية. الموتمر العالم الشهيد الدكتور نزار ريان وجهوده في خدمة الاسلام (صفحة ٠). الجامعة الاسلامية: كلية أصول الدين.

محمَّد الخَضِر بن سيد عبد الله بن أحمد الجكني الشنقيطي. (١٩٩٥ م). كوثَر المَعَاني الدَّرَارِي في كَشْفِ خَبَايا صَحِيحْ البُخَاري. بيروت: مؤسسة الرسالة.

محمد بن اسماعيل الجعفي البخاري. (١٩٩٣ م). صحيح البخاري. دمشق: دار ابن كثير، دار اليمامة.

محمد بن علي بن آدم بن موسى الإتيوبي الولوي. (١٤٣٦هـ). البحر المحيط الثجاج في شرح صحيح الإمام مسلم بن الحجاج. الرياض: دار ابن الجوزي.

Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# The Prophetic Methodology of Outward Signs in Teaching

Usman Ghani Yousafi
Department of Islamic Studies, Faculty of Sharia, Kandahar University
**Email:** usman.afghan11@gmail.com

## Abstract

Inrecent times, significant progress has been made in discovering teaching methodologies in the field of education and training, especially concerning outward signs in prophetic methodology. As Western scholars have recently taken the lead in this area, they have introduced innovative methods and strategies for teaching. Therefore, I intended to explore these methods through the lens of Prophetic Hadiths to show that they are already rich with such methodologies. The Prophet Muhammad (peace be upon him) provided important guidelines for teaching methods. The aim of this research is to collect Hadiths related to teaching methodologies from authentic Hadith books. This research was conducted using a library-based method, with descriptive and analytical approaches used for examining the material. The study focuses on the outward sign-based methods of the Prophet in teaching. The findings reveal that the teaching methods used today in academic fields are not entirely new inventions; rather, they were already present in the Prophetic Hadiths. The Prophet (peace be upon him) utilized methods involving outward signs, illustrations, graphics, and shapes in his teachings. His teaching styles align with modern educational methodologies and are even considered foundational inspirations for them. The Hadiths demonstrate that teaching methods should be practical, clear, and suited to the learners' capacity. Therefore, Prophetic Hadiths serve as a rich source of innovation and methodology in education.

**Keywords:** Teaching – Hadith – Method.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:2 Issue: 1 Year:1404**